# بېشکه چې ستاسو رب ډېر حیاناک او عزتمند دی، هغه له خپل بنده نه حیا کوي چې کله ورته لاسونه پورته کړي او بېرته یې تش ور وګرځوي

له سلمان رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «بېشکه چې ستاسو رب ډېر حیاناک او عزتمند دی، هغه له خپل بنده نه حیا کوي چې کله ورته لاسونه پورته کړي او بېرته یې تش ور وګرځوي».
[حسن] [ابو داود، الترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د دعا پر مهال د لاسونو په پورته کولو ټینګار کوي او خبر راکوي چې الله تعالی ډېر حیاء لرونکی ذات دی، او هېڅکله ورکړه نه پرېږدي، له بنده سره هغه څه کوي چې هغه پرې خوشحالېږي، او هغه څه پرېږدي چې زیان ور رسوي، (کریم) دی؛ له غوښتنې پرته ورکړه کوي، نو له غوښتنې وروسته به یې څنګه نه ورکوي؟ هغه د خپل مؤمن بنده څخه حیا کوي چې لاسونه یې د دعا لپاره ورپورته کړي او بیا یې تش، ناهیلي او له قبلولو پرته یې پرېږدي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5499